# په چاپيريال ساتنه کې د رسنيو ونډه/ليکوال: عبدالرقيب سايل

اوس تر بل هر وخت د نورو تولنيزو پديدو ترڅنګ پر چاپيريال ساتنې هم بحث ډېر مهم دی ځکه له يوې خوا د نفوسو ډېروالی او له بلې خوا له سرچينو څخه په ناسم ډول د ګټې اخيستو له امله د چاپيريال ککړتيا ته ګواښ متوجه دی چې مستقيماً د انسانانو په ژوند هم اغيز پرېباسي. برياڵی نسل هغه دی چې پر وړاندې يې ټول ګواښونه د تعقل او منطق له لارې حل کړي، د ژوند ټولو برخو لپاره يوه معقوله تګلاره جوړوي او هڅه کوي چې د ځان او نورو سمبالتيا لپاره مهمې ستراتيژيانې پلان کړي. زه ما په اند د ښه ژوند لپاره له ستراتيژيو يوه د چاپيريال موضوع چې حکومتونه او خلک په کې فعاله ونډه بايد لري، مهمه ده. دلته درسره د حکومتونو او خلکو پر ونډې خبرې نه کوم، يوازې غواړم له مسلکي زاويې څخه د چاپيريال ساتنې په برخه کې د رسنيو رسالت په اړه لنډ څو ټکي شريک کړم او هغه لارې چارې چې رسنۍ او خبريالان کولی شي ترې کار واخلي، راوړم.

زموږ پر وړاندې هر شی زموږ د چاپيريال يوه برخه ده او دا توکي پر موږ مستقيماً اغيز لري. که ښه وکارول شي ګټه يې راته ډېره ده او که په ناسم ډول ترې کار واخيستل شي نو له شک پرته موږ ګواښلی شي. له اروايي لحاظه ټول ګواښونه ويرونکي او خطرناک دي نو ځکه خلک بايد د خطرونو په مخنيوي کې مهمه او فعاله ونډه واخلي او رسنۍ وال چې ځانونه بيا تر هر چا ډېر د ټولو انسانانو خواخوږي بولي، نو لومړی د دوی دنده جوړيږي چې د ګواښونو مخنيوي په اړه لاس په کار شي ترڅو د اسانتياوو رامنځته کېدو او ښه ژوند کولو سبب شي. له يادو ګواښونو يو خطرناک يې د چاپيريال ککړتيا ده چې بدبختانه خلک له مختلفو ناروغيو سربيره حتی وژني.

په يوه داسې فضا کې چې هوا يې پاکه وي، لوبې او کار کول په کې خورا په زړه پورې وي. انسان خوښيږي او ورو په ورو يې ځواک لوړيږي ؛ له همدې امله اړينه بولم چې د چاپيريال ساتنې په برخه کې ډېر مسوولیتونه رسنيو ته وړانديز کړم او په دې که نه يوازې انساني سکون دی بلکې د رسنيو او خبريالانو وجيبه او دنده ده چې خلک بايد وپوهوي.

رسنۍ بايد په خپلو تګلارو کې د چاپيريال ساتنې او د هغه په اړه د عامه پوهاوي لپاره ځانګړې کړنلارې چمتو کړي او که وکولی شي چې په دې برخه کې ځانګړي خبريالان ولري او يا روزنه ورکړي نو لا به ښه وي ځکه د اصولو له مخې که رسنۍ کوم کار ترسره کوي نو د هغه لپاره اړتيا ده چې ځانګړي متخصص کارکونکي ولري، ترڅو په ښه توګه اړونده برخه تر پوښښ لاندې ونيسي.

د چاپيريال ساتنې اړوند د رسنيو څار او فعاليت ځکه د تګلارو برخه ګڼل غواړم چې رسنۍ وال پرې په زغرده بيا کار کولی شي، نه به ورسره د ادارې له لورې ستونزه وي او نه هم د هغو ساحو د ريپورټ ورکولو په اړه ستونزې چې د دوی کار له خنډونو سره مخامخ نه کړي.

د رسنيو لپاره چاپيريال اړوند ټول مسايل په مهمو خبري سوژو کې راځي ځکه د ژورناليزم ټولو خبري ارزښتونو له مخې هغه سوژې چې د خلکو ژوند ور پورې تړلی وي، پر خلکو اغيز لري او يا ترې ګواښېدلی شي نو هغه ټول موضوعات په دې ارزي چې تر پوښښ لاندې ونيول شي.

رسنۍ د عامه ذهنيت روزلو او پوهولو په نيت کار کوي او په دې برخه کې خلکو ته د اطلاعاتو او معلوماتو وړاندې کولو اسانه لارې چارې رامنځته کوي. د همدې لپاره لومړی د چاپيريال د ککړتيا اړوند ټول لاملونه بايد په نښه شي او د بېلابېلو پروګرامونو او لارو چارو له لارې يې بايد په وار ـ وار د مخنيوي هڅه وشي.

دا واضح ده چې په اوسنۍ نړۍ کې رسنۍ د خلکو او پېښو ترمنځ پول ياديږي ځکه هر څه چې پېښيږي، خلک پرې د رسنيو له لارې خبريږي. د ټولو پېښو او حتی هر فکر چې رامنځته کيږي، په اړه يې د خلکو غبرګون رسنۍ ښه منعکسولی شي، له همدې امله د ټولو چارو په ځانګړي ډول د چاپيريال ساتنې په اړه رسنۍ ښه اغيز لري.

- خبر ورکول:

لکه څنګه چې د رسنیو او خبریالانو یوه دنده خبر ورکول دي، نو د چاپیریال ساتنې برخه کې هم په کار ده چې رسنۍ په وخت د چاپیریال له اړوندو مسایلو ژر خبر ورکړي ترڅو خلک خبر شي چې په دې برخه کې څه پېښېدونکي دي؟

د اوبو او هوا حالتو په اړه په تشریحي ډول خلکو ته اطلاعات خپرول څکه اړین دي، ترڅو خبر شي چې په سیمه کې یې څنګه اقلیم دی او څنګه حالات یې په مخکې راتلونکې دي. دغه راز د باد او بارانونو اټکل په اړه هم له مخکې نه باید ولس ته اطلاعات ورکړل شي چې په راتلونکې ژمي او یا اوړي موسمونو کې څنګه حالات پېښېدونکي دي چې خدای مه کړه، کارونه یې له ستونزو سره مخامخ نه شي او یا ځنډني نه شي.

رسنۍ کولی شي، خلک په پرلپسې توګه د چاپیریال په برخه کې د اړوندو نړیوالو سازمانونو له پرېکړو خبر وساتي یا باید د هغو مسایلو په اړه په وخت راپورونه خپاره شي چې د نوې ټکنالوجي کارونې له مخې د چاپیریال د ککړتیا مخنیوي سبب ګرځي. دغه راز رسنۍ باید د هغو اضافي ناپاکه توکو په اړه هم چې له کورونو بیرون او یا په کور کې په یوه داسې ځای کې غورځول کېږي چې د ډېرې ککړتیا او ناروغیو رامنځته کېدو لامل ګرځي، په وخت خبر خپور کړي.

د عامه خلکو پوهول هنر غواړي څکه هغوی یوازې د ځینو حساسو مسایلو په اړه په خبرېدو نه سمېږي ترڅو چې په فکر کې یې بدلون را نه شي.

- د ذهنیت جوړونه:

په ټولنه کې عامه افکار متفاوت دي، ځیني خلک د ژوند کولو لپاره یو ډول چاپیریال لري او نور بیا په بل ډول خو د افکارو په یوه خوله کولو لپاره رسنۍ کولی شي چې خلکو سره مستقیما اړیکه جوړه کړي، د دوی ستونزې درک کړي او د درملنې لپاره ورته داسې نسخه ولیکي چې ټولنه پرې اسانه روغتیا ومومي.

د رسنیو لپاره دغه نسخه جوړول اسانه ده، څکه له ولس سره د دوی اړیکه وار له وار ټینګه ده خو د رنځ پیدا کېدل او پېژندل مهم دي، ترڅو معلومه شي چې ټولنه د چاپیریال له ککړتیا څنګه اغیزمنه ده او وروسته د څرنګوالی له مخې د ښه پلان په نیولو سره ټولې ناروغۍ له منځه وړلی شي.

د افکارو اړوندو بحثونو کې لولو چې د ذهنیتونو رغولو او اغیزمن کولو لپاره تر ټولو اسانه لاره رسنۍ دي څکه له ډېر پخوا راهیسې د تبلیغ کولو لپاره د نړۍ ځواکونو هڅه کړې او لا هم اخته دي، ترڅو د مختلفو پروګرامونو پلې کولو په واسطه خلک اغیزمن کړي او خپلې خواته یې ور جلب کړي. له همدې امله د چاپیریال د ککړتیا له منځه وړلو او د پوهېدو په اړه په اغیزمنه توګه د رسنیو ډېر او مسلکي کار ته اړتیا ده.

رسنۍ د خپلو خپرنیزو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې، د چاپیریال اړوند ټولو سوژو په تړاو د ذهنیتونو قانع کېدو لپاره که وغواړي نو بېلابېل کارونه کولی شي. لکه د چاپیریال هر ډول ککړتیاوو په اړه ډرامې، طنزونه او بېلابېلو خپرونې برابرول چې مختلف ژانرونو په کې کارول شوې وي، جوړېدای او خپرېدای شي. یا هم د هغو ټولو علتونو په اړه چې چاپیریال ترې ککړیږي، د خلکو عامه پوهاوي په موخه ترې مختلفې خپرونې چمتو کېدای شي او یا د هغو سون توکو په اړه چې دود کوي، د ښځلو اوبو په اړه چې څنګه ککړېدلی شي او دې ته د ورته نورو موضوعاتو په اړه خلکو ته پوهاوی د رسنیو واضح رسالت دی.

د ذهنیت جوړولو لپاره رسنۍ پرانیستې لاس لري، کولی شي چې چاپیریال ته د متوجه ګواښونو په اړه خلک د ډرمې، طنز، فلم او یا نورو تاثرونو له لارې ښه وپوهوي څکه له دغو ژانرونو کار اخیستل او هغه بیا له ټولنیزو رسنیو څخه په وېډیو، غږ، انځور او ګرافیک ډول خپرولو سره، ډېر او ژر مخاطبان اغیزمنولی شي.

- لارې چارې:

زه فکر کوم چې په پورتنیو دوو برخو کې د رسنیو ونډه په بشپړه توګه واضح شوه خو دغو ټکو ته د رسېدو لپاره عملي لارې چارې په کار دي چې باید وسنجول شي.

په ټوله کې ټول هغه شیان چې غواړو خپاره یې کړو یا یې ژر خلکو ته ورسو او غبرګون ترې واخلو؛ ښه لاره به یې د رسنیو بېلابېل ډولونه وي. لکه، چاپي خپروني چې پر مټ یې په اسانه ډول کولی شو، مختلف پیغامونه ډېر واضح خلکو ته ورسولی شو. موږ ډول ـ ډول چاپي خپروني لرو، کولی شو چې د چاپېریال ککړتیا یا نورو برخو لپاره له ځانګړو پمفلټونو، بروشرو، ورځپاڼو او مجلو کار واخلو.

یا هم اوسني وخت ته په کتو د راډیو له لارې کولی شو، بشپړ تبلیغ وکړو چې خلک څنګه کولی شي، د چاپېریال په اړه وېښ وه اوسي او د ککړتیا مخنیوي لپاره سم له واره لاس په کار شي. له راډیویي اعلانونو نیولې ان تر ځانګړو غږیزو طنزو او معلوماتي خپرونو پورې ټولې چارې د راډیوګانو پر مټ ترسره کولی شو.

بله پرمختللې لاره د ټلویزیون ده چې خلکو ته به ډېر په زړه پورې هم وي. په ټلویزیون کې د چاپېریال ککړتیاوو او یا نورو ستونزو په اړه په ډېره روښانه توګه خلکو ته پیغام ورکولی شو چې څنګه دوی د چاپېریال ساتنې په برخه کې ونډه لرلی شي او د ټلویزیون له لارې په دې هم ښه پوهیدلی شي چې که د بېلګې په توګه څوک د چاپېریال له ککړتیا اغېزمنېږي او د ناروغۍ حالت ته رسېږي نو په کوم حالت کې به بیرته روغتیا مومي او څه باید وکړي چې د چاپېریال له ککړتیا وروسته د بیا لپاره زیانمن نه شي. د ټلویزیون په واسطه خلک دغو پوښتنو ته په ډېرې اسانۍ ځواب پیدا کولی شي، په دې شرط چې رسنۍ وال ورته لږ زیار وګالي او دا یو مهم رسالت وبولي.

د لارو چارو په برخه کې تر ټول عصري او اړینه تګلاره د انټرنېټ او ټولنیزو رسنیو ده چې پورتنۍ ټولې برخه په کې نغښتل شوې دي. انټرنېټ او ټولنیزو رسنیو د پیغامونو لیږد ډېر اسانه او ښه کړی دی ځکه په اوس وخت کې ډېر خلک دغو رسنیو ته لاسرسی لري ځکه ارزانه او مهمې دي نو له همدې امله د چاپېریال ساتنې په برخه کې له دغې لارې هم په اغېزمنه توګه کار اخیستل کېدای شي.

کولی شو له دې لارې د ټولو هغو خپرنیزو توکو په اړه چې له وړاندې جوړ شوي دي، که ورته خپاره نو خلک به پرې ښه وپوهېږي ځکه په ټولنیزو رسنیو کې هر ډول چې پیغام ترتیب شوی، هماغسې د خپرېدو لاره لري. یعنې له مهارت څخه په کټې اخیستې یو پیغام په څو لارو خپارېدلی شي. دا چاره ځکه اړینه ده چې ښایي یو څوک زموږ له مستقیمو خبرو سره قانع نه شي خو د همدغه پیغام په اړه چې د هغه کس قناعت مو نه دی حاصل کړی؛ په بل ډول ورته یاد پیغام ترتیب وو ترڅو د ده د خوښې وړ وګرځي او له هغه کار لاس واخلي چې موږ غواړو دی منعه کړو.

- د مسلکي کسانو ګومارنه

اوس چې د رسنیو ونډه واضح شوه او لارې چارې یې هم را څرګندې شوې نو له دې وروسته باید داسې کسان چې د چاپېریال په برخه کې پوره مهارت ولري او په دې وپوهېږي چې خلک څنګه اغېزمنولی شي نو هغوی باید په رسنیو کې وګومارل شي یا رسنۍ باید له هغو کارکوونکو سره چې په ځانګړې ډول د چاپېریال ساتنې اړوندو مسایلو د پوښښ دنده په غاړه لري، یو ډول کاري تړونونه دې ورسره وشي ځکه د مسلکي مسایلو پوښښ مسلکي خلک غواړي ترڅو خلکو ته د هماغه مسلک له ژبې معلومات خپاره کړي چې ښه پوه شي او باور وکړي کنه ښایي نور کارکونکي ستونزې را ولاړې کړي او د دې پر ځای چې رسنۍ د اصلاح سبب شي، ممکن د زیان سبب وګرځي.

یا ښایي رسنۍ به هڅه کوي چې د چاپېریال په اړه ذهنیت جوړونه وکړي خو د یادو موضوعاتو په اړه د ناسمو مطالبو خپرولو له مخې خدای مه کړه خپل باور ته زیانه ونه رسوي، د رسنیو لپاره هېڅ شی په دې نه ارزي چې باور یې زیانمن شي.

دې برخې ته باید هغه کسان کارونه وکړي، چې د خبرونو په جوړولو کې مهارت ولري. مختلفې خبرونې په بېلابېل ډول د ډول ـ ډول رسنیزو پلټ فارمونو لپاره جوړې کړای شي. لکه د ټولنیزو رسنیو، راډیو، ټلویزیون او چاپي خبرونو لپاره جلا ـ جلا توګه مسایل باید ترتیب کړای شي له همدې امله د چاپېریال ساتنې او د ککړتیاوو مخنیوي په برخه کې د رسنیو ونډه مهم یادیږي.

نه یوازې د چاپېریال بلکې په بله هره برخه کې کله چې رسنی کار کوي نو په ځانګړې توګه ورته باید کوچنی ـ کوچنی تګلارې جوړې شي. د بیلګې په توګه یو اداره غواړي چې د چاپېریال په اړه دې یوازې ریپورټونه ورکړل شي نو اړتیا نه لري چې په نورو برخو کې عامه پوهاوي وکړي نو اداره یوه مسلکي ریپورټر ته اړتیا لري. یا ښایي بله اداره د طنزونو او ډرامونو خپرولو ته زړه ښه کړي نو دوی باید د هماغې برخې ماهرین ځان سره وګوماري څکه هېڅوک پورتنی یاد مهارتونه نه لري ځکه د انسانانو پیدایښت همداسې شوی چې یو به خبریال وي، بل به ډرامه لیکوال او نورو به په تخنیکي چارو کې پوهه لري نو د دوی د ټولو په یو ځای کېدو سره موخه ترلاسه کیږي.

عبدالرقیب سایل
۱۳۹۹ وری ۱۷مه
۰۷۷۹۸۷۰۸۷۱
Sail.raqeeb@gmail.com